# باچاخان ته اجتماعي په مخه ښه

قریش گل ایډوکیټ



باچاخان په ۲۱ جنوري کال ۱۹۸۸ء د جمعې په ورځ په حق اورسېدو او د پېښور جناح پارک کښې په ۲۲ جنوري د جنازې نمونځ وشو. په جنازه کښې خان عبدالولي خان،عبدالعلي خان، غني خان،صدر او مارشل لاء ایډمنسټریټر ضیاء الحق،وزیراعظم محمد خان جونجیو، د قومي اسمبلۍ سپیکر،د سینټ چیئرمین د سرحد وزیراعلی ارباب جهانګیرخان، ګورنر سرحد فدا محمد خان، د قومي اسمبلۍ او سینټ ممبران، د صوبائي اسمبلۍ ممبران، اعلی سول افسران، د پارټۍ عهدیدار، ممبران او په زرګونو د پارټۍ ورکران شریک وو.

کله چې د باچاخان د وفات خبر ولګېدو نو هر چا دا کوشش کولو چې دې جنازې ته لاړ شم. د

باچاخان د وفات نه سمدستي پس د لیډي ریډنګ هسپتال مخې ته په جماعت کښې غسل ورکړے شو. د غسل نه پس د باچاخان تابوت جناح پارک ته یوړے شو. او هلته په یوه جوړه اوچته چپوتره کېښودے شو. د باچاخان تابوت امریکه کښې د نیشنل عوامي پارټۍ د طرف نه جوړ شوے او رالېږلے شوے ؤ. د تابوت سرته عبدالعلي خان سره د نورو ملګرو ولاړ ؤ. د هغه وخت د هندوستان وزیراعظم راجیو ګاندهي هم د خپلې بي بي او ماشومانو سره د باچاخان دیدار کولو ته راغلے ؤ. د حفاظت کار دغه وخت د پښتون ځلمو د ځوانانو لاس کښې ؤ. د ملک د ګوټ ګوټ نه اولس د باچاخان دیدار کولو دپاره راتلل. مونږ د بخشالي کلي نه هم یو لارۍ د پارټۍ کارکنانو چې پکښې ناظم غلام سرور، مهتاب حمزه،قریش ګل،احمد علي، سید نورس خان،غلام علي، ظریف خان،شیرزاده او جامدار خان راغلي وو. د بسونو اودرولو انتظام په ګورنمنټ هائي سکول نمبر۱ کښې شوے ؤ. د دې نه علاوه په سړک تر لرې لرې بسونه،موټرې او ډاټسنې ولاړې وې. د جنازې په ورځ سخت باران ورېدو ټول خلق لامدهٔ خوشته وو. سره د دې چې په زرګونو چهترۍ خلقو په لاسونو کښې نیولې وې. ځائې په ځائې د اوبو ډنډونه او چکړې وې. جنازه په ډېر منظم

ډول وشوه.

د جنازې په وخت خلقو څه ساعت دپاره چهترۍ بندې هم کړې. د جنازې نه مخکښې د باچاخان ديدار بند کړے شو. خو چې جنازه وشوه نو بيا ديدار کول شروع شو. په زرګونو خلق د باچاخان ديدار کولو دپاره سټېج طرف ته روان شو. ګېرچاپېره خدائي خدمتګار او رضاکاران د زرګونو په تعداد کښې د حفاظت دپاره موجود وو. د جنازې مونځ د رځړو صاحب حق صاحب ورکړو. د باچاخان تابوت په سبا له سحر وختي په يو ټرک کښې کېښودے شو چې ګېرچاپېره ترې سرې جنډې لګېدلې وې. مونږ تقريبا ۲۵ کسانو د محمد طهماش خان سابقه ډي آئي جي په ديره کښې د کچرۍ دروازې ترمېځ شپه تېره کړه جامې،ټوپۍ او واسکټونه لامدۀ خوشته وو. خو هغوي را ته د هيټر انتظام وکړو او ګوزاره وشوه. د ماښام روټۍ مو هم هغوي سره وخوړه او سحر وختي مو هم هلته چائې وڅکلې. او خپل بس کښې کيناستو د جنازې جلوس په خيبر روډ پېښور روان شو. په زرګونو موټرونه،بسونه،ډاټسنې،ټرکونه د جلال آباد په لوري روان وو. جلوس ډېر پرسکون او په آرام تورخم ته ورسېدو. په ټوله قبائيلي علاقه کښې خلق د سړک په دواړه غاړه د جنازې د جلوس هرکلي ته ولاړ وو.

په تورخم کښې د افغان حکومت د طرف نه هر ګاډي ته يو ګټه چې پرې نمبر درج ؤ ورکړے شوه. مونږ جلوس سره برابر په قطار کښې روان وو. هيڅ قسم رکاوټ نه ؤ. کله چې مونږ جلال آباد ښار ته نزدې شو نو هلته د سړک نه جنوب طرف ته يو لوئې مېدان د ګاډو د اودرولو دپاره مختص شوے ؤ. او مېدان د ګاډو نه برجع ؤ. دې نه پس به ټول ګاډي د سړک دواړه غاړو ته اودرولے شول. د شيشم باغ د باچاخان کور پورې سلسله د ګاډو روانه وه. کله چې زمونږ بس په سړک اودرېدو. وړاندې ځائې نه ؤ نو مونږ بس نه کوز شو. او يو اوچه کنده وه کله چې هغې ته ورنزدې شو نو دې وخت يو دهماکه وشوه. زمونږ غوږونو کار پرېښود. سترګې راباندې تورې تورې شوې او په ځائې کيناستو. دې کښې څو دهماکې نورې وشوې. مونږ کتل چې يو شغله به اوچته شوه. او چې ګرز به شو نو موټرې څه چې غتې غتې وې فضاء ته ګوزارې شوې. ډېر خلق چې دغه ګراونډ کښې موجود وو شهيدان شول. او ګاډي ئې تباه شول. چې د باچاخان تابوت خاورو ته کوزولو نظاره اوګورو. دې وخت کښې د افغان ګورنمنټ هيلي کاپټر فضاء ته اوچت کړے شو بل طرف ته په غرونو کښې برابر د دهماکو اوازونه د ډېر نزدې نه اورېدل کېدل دې دوران کښې افغان ګورنمنټ په فوځې ټرکونو د خوراک پيکونه تيار ايښې وو او هغه به ئې خلقو ته ورغورزول. خلقو به هغه راخستل. ورسره ورسره د حکومت د طرف نه د پښتو ژبې زرګونه کتابونه په بسونو کښې اچولے شوي وو. او په سړک به خلقو ته غورزولے شو. مونږ چې شيشم باغ ته ورسېدو نو د باچاخان تابوت لحد ته کوز کړے شوے ؤ. او خاوره پرې اچولے شوه. دې وخت کښې د افغانستان صدر ډاکټر نجيب الله، خان عبدالولي خان،اجمل خټک،خيربخش مري، د هندوستان نائب صدر او د ګڼو ملکونو نمائندګان تابوت ته ولاړ وو. د ولي خان سترګې د اوښکو ډکې وې. ټول خلق د باچاخان په غم غمجن وو. کله چې د قبر مراسم پوره شو نو بيا هر سړي د واپس راتلو کوشش کولو. مونږ هم په خپل بس کښې واپس را روان شو. تياره وه چې مونږ تورخم ته راورسيدو. خو د تورخم نه لږ وړاندې په تياره کښې پهتراؤ وشو. دې نه پس مونږ پېښور ته راغلو او د پېښور نه نېغ ډېر ناوخته خپل کلي بخشالي ته راورسېدو.